يا الله ! څوک چې زما د امت د چارو مسوولیت په غاړه واخلي او له هغوی سره سختي وکړي نو سختي پرې راوله، او چا چې زما د امت د چارو مسوولیت پر غاړه واخیست او په نرمۍ يې ورسره چلند وکړ، نو پرې مهربانه شه

له عائشې رضي الله عنها څخه روایت دی، وایي چې: ما له رسول الله صلى الله عليه وسلم څخه په خپل دې کور کې اوریدلي دي چې ویيل يې: «يا الله ! څوک چې زما د امت د چارو مسوولیت په غاړه واخلي او له هغوی سره سختي وکړي نو سختي پرې راوله، او چا چې زما د امت د چارو مسوولیت پر غاړه واخیست او په نرمۍ يې ورسره چلند وکړ، نو پرې مهربانه شه».

[صحيح دی] [مسلم روایت کړی دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د هر هغه چا لپاره (بد دعايي) خبرا کړېده چې د مسلمانو له چارو څخه يې د يوې مسؤولیت پر غاړه واخلي، هغه که کوچنی وي يا لوی، او برابره خبره ده که دا عامه ولایت وي يا خاصه، او پر هغوی يې سختي راوسته او نرمي يې ورسره ونکړه، نو الله تعالى به ورته سزا د عمل له جنس څخه ورکړي او سختي به ورسره وکړي. او دا چې څوک پرې مهربانه شي، او چارې يې ورته اسانه کړي، نو الله به پرې مهربانه شي او چارې به يې ورته اسانه کړي.

http://www.sunnah.global/hadeeth/ps/show/5330